# د سیدال ناصر ملي او ادبي شخصیت

زموږ په ملي تاریخ کي مرحوم حاجي میرویس خان د آزادۍ غوښتلو د حرکت یو داسي ملي غورځنګ و چي هر افغان یې باید په افتخار ولولي او په دې وپوهیږي چي زموږ خلکو د خپلي ملي آزادۍ د ساتني لپاره هر وخت په ګډه څه قرباني ورکړي دي او دا چي اوس موږ یو آزاد او خپلواک هیواد لرو او د یوه واحد او نه بیلېدونکي وجود په څیر پخپل مملکت کي ژوند سره کوو دا د کومو رجالو او میرونو د سعی او مجاهدت نتیجه ده او څنګه باید چي د دوی نوم او یاد ژوندی وساتو.

سیدال خان ناصر هغه افغان لوی سپاه سالار و چي د حاجي میرویس خان په دفاعي جنګونو کي د متجاوزو قواوو سره د پښتنو د لښکر قاید او لوی افسر او په وارو وارو یې پردو تجاوز کوونکو لښکرو ته د کندهار او فراه تر منځ شکستونه ورکړل او کله چي به د آزادۍ ساتني د جنګ او دفاع وخت راغی نو به سیدال خان د ملي قواوو په تنظیم بوخت سو او د متجاوزینو لښکر به یې داسي تاش په تاش کړ چي دوی به کورټ کندهار ته نسوای را رسېدلای او د سیدال خان د ملي قواوو له خوا به پر لاري محو سوي وو.

زموږ د ملي لښکرو دا بریالی قوماندان داسي غښتلی او مدبر او زړه ور پښتون و چي ملیون به تل پر ده راټولېدل او د ده په عسکري بولی به یې سرونه پر میدان بایلل. د ده شخصیت او تدبیر



او قول و عمل دوني نافذ و چي تر ملي زعیم میرویس خان وروسته زموږ ملي کاروان د ده په رغ حرکت کاوه، او هم دا سړی و چي د ارغنداو او هلمند پر غاړو به یې د اجانبو یرغلګرو منظم او مسلح لوی لوی پوځونه محو کول او د افغان د آزادۍ بیرغ به یې تل جګ ساته.

سیدال خان یوازي د جنګ د میدان فاتح او توریالی سپه سالار نه و بلکي د خلکو یو اجتماعي رهنما او ملي لارښوونکی هم و دی د حاجي میرویس خان سره په اولسي جرګو کي د خلکو د یوه معتمد رهنما په ډول هم شامل و او د وحدت او یو والي هغه پیغام چي د میرویس خان له خولې به راووت د سیدال خان او د ده د ملګرو په وسیله خلکو ته رسول کېده.

کله چي مرحوم حاجي میرویس بابا وفات سو نو د ده مېړنی زوی شاه محمود هوتک په کندهار کي پر تخت کښېنوست او سیدال خان د ده د دربار غټ سپه سالار او حربي مشاور و. دلته افغاني دربار دا خبره درک کړه چي د ملت آزادي تل د غرب د یوې قوي او غښتلي پاچهۍ له خوا په خطر کي ده او که دغه خطر له لویه سره دفع نه سي نو به تل افغاني مملکت له دغي خوا څخه ضررونه ویني او د افغانستان د خلکو پر آزادۍ باندي به ناحقه تعرضونه او تیري کیږي دلته نو افغاني مشرانو او ملي جرګو دا فیصله وکړه چي یوه ملي او ګډه قوه د افغانستان د ټولو خلکو په ګډون تشکیل کاندي او د صفویانو له مرکزي حکومت سره د افغان د آزادۍ مقدرات په قطعي ډول وټاکي.

د افغاني ملیونو قوا په کندهار کي سره راغونډ سول او د شاه محمود او سیدال خان په قیادت یې د فراه او سیستان له لاري کرمان ونیو او بیا یې په اصفهان کي د صفوي شاهانو لښکري قدرت له منځه ویوست او شاه محمود افغان پادشاه د اصفهان پر تخت

کښيناست. په دغه تاريخي بري کي د افغانستان خلک ټول برخه لري او په هغو لښکرو کي چي د سپه سالار سيدال خان په قيادت يې اصفهان فتح کاوه د کندهار او روزګان او هزاره جات خلکو هم برخه درلوده ! او له نورو افغانانو سره څنګ په څنګ د خپل مملکت د افتخار لپاره د سيدال خان تر قيادت لاندي جنګېدل.

سيدال خان د شاه اشرف هوتک سپاه سالار هم وُ،ده د دوو لويو دولتو د لښکرو سره د افغاني سرحداتو د ساتني لپاره هم فاتحانه جنګونه وکړل د تزاري روس قوا يې د ايران د شمال پر سرحداتو ودروله او د عثماني دولت پوځونه يې پر غربي ميدانو باندي مات کړل او کله چي د شاه اشرف افغان تر مرګ وروسته افغاني قوا د نادرشاه افشار سره مخامخ سول نو بيا سيدال خان د ايران په ټولو جنګونو کي د افغاني قواوو لوی مشر او لښکري قايد وُ.

سيدال خان د جنګ په کارو او تدبيرونو کي يوه نه ماتېدونکې اراده درلوده او عزم يې په هيڅ جنګ کي نه متزلزل کېده ده تر هغه وخته د نادر سره مقابله کوله چي د جنګ پر ميدان يو څو زلمي ورسره پاته وو او بيا نو راغی د کندهار په کلا کي له نادر سره يو کال او څو مياشتي په داسي مېړانه او مهارت و جنګېده چي موږ يې په خپل عسکري تاريخ کي نظير ډېر لږ لرو.

د افغانانو اخرنی مقاومت هم د نادر په مقابل کي هغه وخت و چي سيدال خان د کلات په کلا کي د نادر افشار په لاس کښېووت او هم د ده په امر ړوند کړ سو او وروستنی عمر يې د کابل په شمالي خوا شکر دره کي د نفي په ډول تېر کی څو هم دلي وفات او ښخ سو.

اوس د وطن د آزادۍ د دې لوی مدافع او ساتونکي قدر داني کول او هم د وطني او ملي غيرت او شهامت يادونه او پيروي هر وطن خواه افغان ته ښايي او که موږ د خپلو تاريخي رجالو او



ناموړانو د ښو اعمالو او خدمتونو ستاينه کوو نو دا به موږ د افغانستان خلک نن د ژوندانه يوه خورا مهمه دوره تېروو او موږ د نوي ژوندانه او نوي تنظيم پر لوري روان يو د دې لاري د تللو او رهبرۍ لپاره ډېرو فعالو او صادقو او تر سره تيرو خلکو ته ضرورت لرو او دغسي رجال هم په قدر داني او ملي حق بيني او تقدير منځ ته راځي. که موږ د خپلو تيرو ملي مېړو قدر وکوو اوسني صادق خلک هم پخپل کار او فکري فعاليت کي حوصله او دلګرمي مومي نو ځکه زه د تاريخي رجالو يادوني او ستايني ته په ښه نظر ګورم.

**ادبي شخصيت** :

د پښتو په تاريخ کي د دولسمي هجري پېړۍ لومړۍ برخه د يوه ملي قيام او رستخيز دوره ده. په دغه وخت کښي د پښتو نامي پهلوان او لوی شاعر خوشحال خان مړسو. او ده له اسفناک مرګه سره د لري پښتونخوا د ننګياليو پښتنو ملي جهاد د ګورګانيانو د ظالمه او پردي حکومته سره ختم سو.

مګر پښتنه ابۍ شنډه نه وه، په همدغه زمانه کي له برو پښتنو څخه يو بل مېړه د هوتکو په درنه کورنۍ کښي پيدا سو چي کندهاريانو حاجي مير خان باله، او دا هغه درونډ اوآزاديخواه او مدبر سپين ږيري دی چي اصلي نوم ئې مېرويس خان وُ، مېرويس خان د کندهار په سيمو کښي مشال بل کی، هغه چي شل کاله مخکي خوشحال خان د لنډی او اباسين پر غاړو روڼ کړی وُ.

هغه رڼا چي لږ وخت دمخه د اکوړې او خټکو او يوسفزو پر سمه او غرو ځلېدله اوس د ارغنداو پر غاړو پرکندهار وځلېده، او د مېرويس په رهنمايي او تدبير د کندهار په تاريخي ښار کي د آزادۍ ګلګون بيرغونه ورپېدل. د مېرويس خان د آزادۍ د جنګو او د هوتکو د کورنۍ يو توريالی جنرال سيدال خان ناصر وُ، چي له کندهاره تر هراته او اصفهانه دده د همت او فتوحاتو او توري د

ځلا ميدان وُ. د پښتنو دا لوى جنرال او فاتح سپه سالار چې د هوتکو د دورې ارت فتوحات دده په توره اومړانه سويدي، د تېرې توري او دلاورۍ سره ئې دردمن زړه او بينا سترګي درلودې، د پوهې او علم خاوند وُ، او د پټې خزانې د مؤلف په قول ئې مروج علوم لکه : فقه ، تفسير، فصاحت، صرف ونحوه او پارس کُتب لوستلي وه. زما مطلب په دې ليک کې د سيدال خان لښکري نبوغ او جنګې ماثر نه دى، خو دوني بايد ضرور ووايم چې دغه نامتو او مېړه جنرال په کندهار او هرات کې د وطن د دفاع او د پښتنو د عظمت لپاره تر دې حده وجنګېدى چې په پاى کې د کلات په جنګ د نادر افشار په لاس ورغى او د هغه په حکم ړوند کړسو، او پاته عمر ئې د کابل په شکر دره کې تېر کى، او هم ددغه ځاى د سياه سنګ په هديره کښې ښخ دى. وايې چې دکوم انسان په فطرت کښې د نبوغ او عبقريت استعداد وي نو که دغه د اتلتوب لياقت په يوه رنګ کې ښکاره نه سي په بل رنګ او صيغه کې خو ضرور ښکاره کيږي.

شاعري اصلاً يو نفيس او جميل فن دئ، چې د انسان د فطري او جمالي استعداده را زيږي، نوکه يو سړى ددې هنر لپاره په ختّه کې تومنه لري، خو د ظهور او تجلي لپاره يې مساعد چاپېر نه وومومي، نو ښايي چې ددغه ورتيا او لياقت د ځرګندېدلو لپاره کومه بله مساعده او سمه مجرا پيدا سي، او هم له هغې خوا د نبوغ او اتل توب مظاهر ځرګند سي، زموږ توريالي جنرال سيدال خان هم له دغو وتلو او نامتو انسانانو څخه وُ، چې د شعر له نفيس صنعته سره ئې عسکري اتلتوب او نبوغ هم درلود، سيدال هم لوى جنرال وُ هم ښه شاعر وُ، د پټې خزانې مؤلف محمد هوتک وايي : " سيدال خان ناصر په هغه وخت کښې چې په جنګ ګرفتار نه وُ نوبه ئې اشعار ويل او د عشق سندري به ئې کښلې خو اوس په اصفهان کښي



په مهماتو بوخت دى، او د شعر ويلو فرصت ئې نسته، او ورځې ئې په هسې جنګونو تيرېږي چې رستم هم ځيني ډار کا."

د سيدال د عسکري نبوغ او لياقته سره دغه ادبي ذوق او نفيسه قريحه ډېره ښه ايسي دده د شعر ډيري نموني موږ اوس نه لرو، خو د پټې خزانې د مؤلف په همت دده يوه ملي بدله ګوتو ته راغلې ده. دا بدله د يوه ملي او خاص پښتو وزم او شعري رنګ نمايندګي کوي او د هغو سپرو بدلو يوه ښکلې نمونه ده چې تراوسه ئې هم بد لچيان، د کندهار په باغو، او سيوري او اتغر په سيمو کې په ټولنه او ښکلو خوندورو ږغونو وايي، او زموږ د ملي بدلو او کسرونو يو خاص ډول دى.

د ميني دنيا بېل بېل رنګونه او ډول ډول مظاهر لري، کوم وخت چي سړى په دغه کوڅه کښې قدم ږدي بيا تر هغه دمه چې ديدې لارې په کږو وږو پېچومو روږدېږي ډېر مراحل به طى کوي، خو چې پاى ته به هر څه د خپل يار په رنګ کښې ويني، او تش به هم په دغه مشغول وي، مولوى بلخي دغه حال داسي ځرګندوى :

اوست نشسته در نظر من بکجا نظر کنم
اوست ګرفته شهر دل، من به کجا سفر کنم

سيدال خان دغه مقام ته د بدلي په کسر کې په فصاحت او خوږتوب ښه اشاره کوي :

يار ماله هسې ګران سو
راتېر تر ټول جهان ســـو
نور نه وينم په سترګــــو
جهان ټول راته جانان سو

ظاهراً له يوه عسکري سړي څخه د صوفيانو د تحقيقي مقام داسي بيان عجيب ښکاري، مګر د فطرت د جمالي تششع تجليات خو پر کائناتو عام دي او ښايي چې يو سپاهي هم د هغه په هغو

سترګو وکړای سي، لکه د مدقق صوفي چي ئې د اشراق په برکت کوي ! د سیدال د بدلي لومړی بند داسي شروع کیږي :

دوې زلفي دي اوږدې کړې
پرمخ دي راخپرې کــړې
سرې اشرپۍ دي په تندي باندي سپرې کړې
ګرځي په باغ کي په ګلونو کي نخــرې کړې
په اور دي وسوم یــــاره
راته اور تازه بوستان سو

په دې بند کي ښاغلي لوستونکی ته د یوې پښتني معشوقي کره وره او د جمال مظاهر ښه ښکاري، او دلته د یوه پښتانه توریالي او بریالي جنرال عاشقانه څېره څرګنـدیږي، او دده شعر هغه رنګ مومي، چي باید د پښتني محیط او پښتني تخیل نماینده ګي وکړي او هسي ورغیږي لکه یو پښتون چي رغیږي.

په دوهم او دریم بند کښي د عاشق حال او د زړه خوږ په هغه ډول تصویر کوي هغه چي د شرقي ادب د تخیل او محاکات مشترک میراث دی، دلته د ورځو لیندۍ ، او د بڼو غشي ضرور کار کـوي، او دا خو هغه د زاړه حربي سیستم اثرونه دي چي په شرقي ادب کښي عموماً د تعبیو لپاره له هغو څخه کار اخلي، څکه چي په هغـو وختو کښي لا نوري وسلې نه وې عامي سوي او د جنګ پر میدان بـه هر توریالي یا توره څلوله... او یا بـه یې غټـي غشـي لینـدۍ اوږو تـه اچولي وې او په هغوي به ئې تیره غشي ویشتل، نـو شـاعر بـه خپله معشوقه هم په هغو وسلو مسلحه ګڼله او په هغه وخت کښـي د شـاعر وظیفه هم دغه وه چي د خپل محیط ترجماني وکړي، اما اوس کـه څه هم د اتم په زمانې کي یو او زموږ ګرانه معشوقه لـه هغـې کـړې لیندۍ او غشو څخه کار اخلي، او د مین خراب زړه په هغو پخوانـو وسلو ورټپي کوي. سیدال وایي :



مین چي آشنـــــایي کا
شپه و ورځ به ګریاني کا
شهۍ ده ستمګاره ،خوشحال زړونه به زخمي کا
لیندۍ لــــــري د ورځو، د باڼو غشي کاري کا
مین په لویو غرو ځـــــي
سر تور په نیمو شپـو ځي
وصـــال ئې نصیب نه سو
ګوره زړه ډک په ارمان سو

پخوا خو به مین د عشق په درد اوسوز کـي لېونی غونـدي پـر ګوښو ګرځېدی او مخه به ئې پردښته او سارا نیـولې وه، او خـاوري به ئې هم په سر بادولې، مګر دا د جنون لوړ مقام اوسـني بـدبخت مین ته حاصل نه دی، ځکه چي اوس ښارو ته نژدې ګوښي ځایونـه او سارا نه سوې پاته، ټـولي ښکلـي او لـوړي مانـۍ سـوې، ودانـۍ اولاري هم ګرده په سمیټو کلکي سوې، بېچاره مین یو موټی خاوره نه سي پیدا کولای، چي پر سرئې وپاشي او کـه هـم څـوک داسـي لېونی غونډي پر ګوښو ګرځي او خاوري پـر سـر بـادوي نـو ئـې ژر دارالمجانین ته بیایي چي ښاغلی دوکتور ئې د لیونتیا علاج وکـړي، نو په دې اوسنۍ دنیا کـي بـه څـوک قـدامت پسـنده او د پخوانـو افکارو خاوند مین د ښار په کوڅو کي ایله کړي، چي له ماښامـه تـر سهار پځپلو آهونو او غلبلو نور خلـک لـه خوبـه وباسـي او آرام ئـې وران کي؟

سیدال خان وایي :

ناري وهــــم د شــــپې تر صبحــــــدمه
ناتوانه د بیلتون یم یو ګـــــړی نه لـــــرمه
بې تا مي نفس خیژي راځه زما دزړه همدمه
نظر په ما غریب کـــــــــړه
چي تاخون مي ستا په ځان سو

مين پخپله ذهني دنيا کښي کله کله تشبيهات پيدا کوي او غواړي چي د خپل زړه کړاو د عشق درد او سوی د تشبيه په وسيلو خلکو ته وښيي ځکه چي دغه بې درده عالم خو دده د مينتابه کړاوونه په دغو مادي سترگو نهويني. نو ځکه دی له استعارې او تشبيه څخه کار اخلي، سيدال وايي.

شبنم په گلو ښـــکاري
زما اوښکي داري داري
خوناب ځي ستا له غمه ، زما په مخ کي لاري لاري
تمامه شپه کـــم تېره ، په ژړا په ناري نــــاري
ښـــکاره سوه چي مجنون يم
لېونتوب مي اوس عيان سو
بوستان ښـــکلي زيبا دی
رنگين په اوښـــکو زما دی
د زړه پرهار گلگون دی ، چي بلبل په تماشا دی
په مينه مي زړه وچاودی ، ته وايي په خندا دی
نتلی د بيبـــــــــلتون يم
زه "سيدال" دا مي بيان سو

د سيدال د شعر او شاعرۍ خوا دده له حربي نبوغه او کمالاتو سره البته نه قياسيږي، مگر دا خو ضرور ښکاره کوي چي سيدال يوازي جگړن سپاهي نه، بلکي عالم وُ، شاعر وُ، د آرټ ذوق ئې لاره، او دده په دې بدله کښي د ادبي لياقته سره د موسيقيت طنـان او خوخـونکې روح هـم نڅـا کوي؛ او دا بدله په داسي خوارِه ږغ او ترنم ويله کېدايـسي چـي زمـوږ د ملي ږغونو او آهنگونو يوه خوندوره نمونه گڼله سي.

نود سيدال په جنگي کرکټر کي موږ د آرټ او نفاست تجليـات هـم د شعر اوموسيقي په رنگ کښي مومو، او زموږ د بريالي جنرال د شخصيت يو بل ښکلی او د ستايلو وړ اړخ دی، چي د پښتو ځينـي نـور جنگـي نوابـغ لکه پير روښان، خوشحال خان او احمد شاه بابا او شاه حسين ئې څه نـه څه لري.(۱)

(۱) کابل مجله، ۱۳۶۱ ل کال، ۳ يمه گڼه، ۱۳ _ ۲۱ مخونه ،